**د افغانستان بانک**

**د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت**

د مقرراتو او د برېښنايي پیسو او ادا٘ینزو مؤسسو د څارنې مرستیالیت

د مقرراتو ستر مدیریت

ګڼه: ۳۵۹      نېټه: ۸/۱/۱۴۴۷

۳۲۹/۴۰۹
۴۱۸

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د صرافیو او پولي خدمتونو د قدر وړ اتحادیو ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته،

**ماهیت:** متحدالمال

**موضوع :** د نرخ د ټاکلو ځانګړي بازار د رامنځته کولو او تنظیمولو په اړه

له ډېر درناوي وروسته؛

د دې ادارې د ۴۷۲۳ ګڼې ۱۴۴۶/۰۴/۲۴ نېټې متحدالمال په تعقیب سره لیکل کېږي:

د پورته ذکر شوي متحدالمال په ذریعه د اسعارو د نرخ ټاکلو ځانګړي بازار د رامنځته کولو په اړه د دې ادارې له خوا لازم شرایط ستاسو د قدر وړ اتحادیو سره شریک شوي وه چې وروسته د یاد بازار په هکله د ۹۲۸۹ ګڼې ۱۴۴۷/۰۸/۱۰ نېټې لیک په ذریعه د اسعارو د نرخ ټاکلو ځانګړی بازار د تنظیمولو کړنلاره د دې ادارې لخوا تایید او د شهزاده سراي د صرافانو او پولي خدمتونو قدرمنې اتحادیې سره شریکه شوې وه.

د معلوماتو پر بنسټ، د یو تعداد صرافیو او پولي خدمتونو مارکیټونو د ځانګړي بولی بازارونو کې تراوسه د اسعارو نرخ په دودیزه ډول په غیر منظمه توګه ټاکل کېږي، چې د افغانستان بانک د لارښوونو سره سم د اړینو کړنو د نه ترسره کېدو ښکارندویي کوي.

پدې توګه یو ځل بیا ستاسو د قدر وړ اتحادیې ته هدایت درکول کېږي چې د نرخ د ټاکلو ځانګړي بازار د رامنځته کولو او تنظیمولو په هکله د یاد متحدالمال او اړونده کړنلارو او لارښوونو په پام کې نیولو سره د نرخ د ټاکلو ځانګړي بازار تنظیم او تر ۲۰ کاري ورځو پورې دې ادارې ته راپور ورکړئ.

د افغانستان بانک ستاسو په چارو کې د لا بریاوو غوښتونکی دی. **والسلام**

۱۴۴۷/۱/۱۷

صدیق الله خالد

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

کاپي: د ریاست دفتر د قدر وړ لوی آمریت ته (زونونوته د تکثیر په موخه)

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۴۷۶۱۰
ټولنیزې شبکې فیسبوک، د افغانستان بانک / تو